# د حیرانتیا طبي بلونو په وړاندې ستاسو حقونه او خوندیتوبونه

کله چې تاسو بیړني پاملرنې ترلاسه کوئ یا د شبکې څخه بهر معالج لخوا د شبکې دننه روغتون، سیار یا د امبولانسي جراحي مرکز کې درملنه کوئ، تاسو د حیرانتیا طبي بلونو څخه خوندي یاست. په دې قضیوکې، تاسو باید ، تاسو باید ستاسو د پلان اړوند مشترکه تادیاتو ، مشترکه بیمې او / یا د کسر وړ تادیاتو څخه ډیرې پیسې ورنکړئ.

**<u>د توازن بیلنګ څه دی ( ځینې وختونه د حیرانتیا بیلنګ ورته ویل کیږی)؟</u>**

کله چې تاسو یو ډاکټر یا بل روغتیایی مرکز کارکونکي سره ګورئ، تاسو ممکن ځینې اضافي یا غیر متوقع لګښتونه لکه مشترکه تادیات، مشترکه بیمه او / یا د کسر وړ تادیات تادیه کړی. که تاسو چیرې د هغه روغتیایي مرکز ډاکټر څخه تداوي وکړئ یا داسې روغتون ته مراجعه وکړی چې ستاسو د روغتیا پلان شبکې څخه بهر وي، تاسو ممکن ځینې اضافي لګښتونه یا هم ټول بل تادیه کړئ.

"د شبکې څخه بهر" پدې معنی ده چې هغه د روغتیایی کارکوونکي یا طبی اسانتیاوې چې ستاسو د روغتیا پلان سره یې د صحي خدماتو وړاندې کولو لپاره تړون نه وی لاسلیک شوی. له شبکې څخه بهر روغتیایی مرکز اجازه لري چې تاسو څخه ستاسو د پلان کوم چې تاسو یې تادیه کوی او د خدماتو د بل د توپیر مقدار پیسې واخلي. دې ته **"د بیلانس بیلینګ"** یا غیر متوقع لګښتونه ویل کیږي. دا مقدار احتمالا د ورته خدمت لپاره دشبکې لګښتونو څخه ډیردی او ممکن ستاسو د پلان د مجرایي وړیا کلني جیب حد ته حساب نه کړي.

"دحیرانتیا بیلنګ" یوغیرمتوقع توازن بیل دی. دا هغه وخت پیښږی کله چې تاسو ونشئ کولای پدې پوه چې څوک ستاسو په پاملرنې کې دخیل دي — لکه کله چې تاسو اضطراري حالت لرئ یا کله چې تاسو د شبکې دننه صحی مرکز ته مراجعه کوئ مګر په غیر متوقع ډول د شبکې څخه بهر روغتیایی مرکز لخوا تداوي کیږی. د سرپرایز طبي بلونه د پروسې یا خدمت په پام کې نیولو سره زرګونه ډالر لګښت لري.

**<u>"دحیرانتیا بیلنګ" یوغیرمتوقع توازن بیل دی:</u>**

**بیړني خدمتونه**
که تاسو بیړني طبي حالت لرئ او د شبکې څخه بهر صحی مرکز یا کارکونکي څخه اړوند خدمتونه ترلاسه کوئ، زیاترینه مقدار چې دوی تاسو څخه اخلی د شبکې دننه د پلان د لګښتونو پر اساس وي( مشترکه تادیات، مشترکه بیمه او / یا د کسر وړ تادیات) تاسو **نشئ** کولای ددې بیړني خدماتو لپاره لګښت ورکړئ. پدې کې هغه خدمتونه شامل دي چې تاسو یې د روغتیایی وضعیت له نورمال کېدو وروسته ترلاسه کوی، تاسو ددې لګښتونو د مخنیوي لپاره باید لیکلي موافقه ورکړئ او یا د خپل خوندیتوب څخه لاس په سر شی تر څو له رغیدو څخه وروسته د دې خدماتو لپاره غیر متوقع لګښتونه ورنکړي.

**ځینې خدمتونه د شبکې د ننه روغتون یا د امبولانسي جراحي مرکز کې**
کله چې تاسې د شبکې د ننه او یا سیار جراحي مرکز څخه خدمات ترلاسه کوی نو ممکن ځینې صحي کارمندان یې د شبکې څخه بهر وي. پدې حالت کې، زیاترینه مقدار چې دوی تاسو څخه اخلی د شبکې دننه د پلان د لګښتونو پر اساس هغه د سهامي لګښت برخه وي دا په عاجلو درملو، بې هوښې، پتالوژي، رادیولوژي، لابراتوار، ماشوم پاملرنه، د جراح معاون، صحي کارمند او متخصصینو باندې د پلي کېدو وړ دي. یاد صحي کارمندان **نشی** کولای تاسو ته غیر متوقع بل درکړي او ممکن تاسو ددې غوښتنه هم ونکړي چې د غیر متوقع بل څخه د مخنیوي په خاطر له خپل خوندیتوب تېر شی.
که چېرې تاسې د شبکې د ننه آسانتیاوو څخه په استفادې نور خدمات لاسته راوړی، له شبکې څخه بهر صحي کارکوونکي نشي کولای تاسو ته بل درکړي تر هغې چې تاسو ورسره لیکلي موافقه وکړی او یا هم له خپل خوندیتوب تېر شی.

**له تاسو هېڅکله نه غوښتل کېږي چې د توازن بل د مخنيوي پخاطر له خپل خونديتوب لاس په سر شی. همدارنګه څخه نه غوښتل کېږي چې د پاملرنې يا صحي شبکې څخه بهر شی تاسو کولای شی د شبکې د پلان څخه خپل د صحي خدماتو وړاندې کوونکي او اړوند آسانتيا وټاکی**

**<u>کله چې دتوازن بل اجازی نه شوی، تاسوهم دا لاندی خونديتوبونه لری:</u>**

- تاسو يوازې مسول ياست د لګښت خپله ټاکلې برخه مو تاديه کړی (لکه مشترک تاديات، مشترکه بيمه، او هغه کسرات وړ مقدار کوم چې تاسو يې د شبکې د ننه صحي خدماتو وړاندې کوونکي يا هم آسانتيا پخاطر تاديه کوی). ستاسو د صحي بيمې پلان به ټول اضافي مصارف په مستقيمه توګه د شبکې څخه بهر صحي خدماتو او آسانتياوو وړاندې کوونکو ته تاديه کوي.

- په عمومي توګه ستاسو صحي پلان بايد:
  - عاجل يا بېړني خدماتو ته بدون د مخکې تاييدي يا اجازې اخيستلو پوښښ ورکړي (چې د مخکيني صلاحيت په نامه هم شهرت لري)
  - د شبکې څخه بهر صحي خدمات وړاندې کوونکو اړوند عاجل خدمات هم پوښي.
  - هغه اندازه څه چې تاسو يې د صحي خدماتو لپاره يا آسانتياوو لپاره ورکوي (سهامي لګښت) په هغه څه چې تاسو يې د شبکې د ننه د يادو خدماتو لپاره تاديه کوی، د ګټو په توضيح پاڼه کې وښاياست.
  - ټول هغه مقدارونه حساب کړی کوم چې تاسو يې د شبکې د کسر وړ او له جيب څخه ټاکلې کچې په تړاو د بيړني خدماتو يا د شبکې څخه بهر خدماتو لپاره تاديه کوی.

**که چيرې فکر کوئ چې ناسم بل درکړل شوی دی** د روډ آيسلنډ د بيمې له څانګې سره په **www.dbri.ri.gov/divisions/insurance** يا 1-401-462-9520 اړيکه ټينګه کړئ.

د فدرال قانون له مخې د خپلو حقونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره ليدنه وکړئ: **www.cms.gov/nosurprises/consumers**.